دویمه کچه

# وصیت

storyweaver PRATHAM BOOKS

التعليم فوق الجميع | education above all




**ليکوال:** انيس اعظمي
**انځورګر:** جوهي اګروال
**ژباړن:** پراګيا ګوپي نات


THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire


Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



نیا بي بي به، د نورو نیاګانو په څېر، ما ته جالبې کیسې کولې. ګڼ شمېر عجیبه کیسې له عربو، هندوستان، افغانستان، ایران او توران څخه. که څه هم د هغې ډېرې کیسې زما له یاده وتلې دي، خو ځینې یې لا هم زما په ذن کې تازه دي. یو له هغه کیسو څخه چې زما ذهن ته نن راځي، د نصحیت په نامه ده، چې د مشورې مانا هم ورکوي.



کلونه پخوا په مصر کې په یوه کوچني ښارګوټي کې، د عبدالله بن سعد په نوم یو سړی اوسېده. د عبدالله سر او کار له اوښانو سره و. هغه د عالي نسل او ښه کیفیت اوښان درلودل چې د سپینې سوې په څېر سپین پوټکي یې درودل. عبدالله له اوښانو سره داسې مینه لرله لکه خپل بچیان یې چې وو.

کال کې یو ځل، هغه به خپل اوښان د مال په مېله کې خرڅول او ښه ګټه به یې لاسته راوړله. بیا به هغه نوي او پاتې اوښان رزول او خپله رمه به یې زیاتوله.

عبدالله یوه نېکه او ایمانداره مېرمن او درې زامن درلودل چې په خوشحالۍ سره د هغه په خېمه کې اوسېدل. د اوښانو احاطه د خېمې نه بهر وه. د هغه ګڼ شمېر سپینو اوښانو ته کتل یوه بهترین ننداره وه چې په احاطه کې د پاڼو ډکو خرما ونو لاندې به یې خپل شخوند ماتولو.

د وخت په تېرېدو سره، عبدالله او مېرمن یې کرار کرار ضعیف او بوډاګان شول.



یوه شپه د ماښام ډوډۍ پر مهال، عبدالله بن سعد خپلو درې واړه بچیانو ته وویل، ”زما بچیانو، زه اوس په بوډا کېدو یم او زما جسم هره ورځ ضعیفه کېږي. زه زیاتره وخت ناروغه هم یم، زه داسې احساس کوم چې زما وخت ډېر ژر رارسېدونکی دی. کله چې زه مړ شوم، د خپلې مور پام ساتئ او مهرباني وکړئ په خپلو کې جنګ جګړې مه کوئ. زه ډېر څه نه لرم، خو ما یو وصیت لیکلی دی چې تاسې یې د غلې په ګودام کې په یوه لوښي کې موندلای شئ.“

له هغه ورځې وروسته ډېر ژر یو سهار، عبدالله خپلې مېرمن او زامنو ته څېرمه په خپل کټ کې په داسې حال کې وموندل شو چې روح یې له جسم څخه وتلی و. د عبدالله د مړینې په درېیمه ورځ، کله چې د هغه کورنۍ کولای شول ویر او ماتم ته د پای ټکی کېږدي، هغوی د هغه د وصیت په هکله فکر وکړ. د هغه زامنو د غلې په ګودام کې هر لوښی ولټولو او په پای کې په پلاستیک کې نښتی یو کاغذ پیدا کړ. د کڅوړې په خلاصولو سره، هغوی ته جوته شوه چې دا وصیت نه و، بلکې یو فرمان/لارښود و چې له لارې عبدالله بن سعد دوی مخاطب کړي وو.







”زما بچو، زه له تاسې درې واړو څخه غوښتنه کوم چې د خپلې مور پام وساتئ. هغې ته د خپلو پرېکړو په اړه خبر ورکوئ؛ که تاسې چېرته سفر کوئ، له تګ څخه دمخه هغې ته خبر ورکړئ. احمده، تر ټولو غټ يې، نو ستا مسئووليت به تر ټولو درونډ وي. ته به د خپلو وړو ورونو، محمد اومکرم، پام ساتې. احمده، د تر ټولو مشر په توګه، ته بايد په کور کې په هر واده، مړينه يا بله کومه پېښه کې موجود يې.

محمده، دا چې ته منځنی يې، ته بايد د خپل مشر ورور احترام او په خپل کوچني ورور باندې شفقت وکړې. همدارنګه ته بايد د خپلې مور احترام وکړې او هغې سره مينه ولرې. مکرمه، ته تر ټولو کشر او خپلې مور ته تر ټولو نږدې يې، نو ته بايد باوري کړې چې ستا د مور هره اړتيا يا ته پوره کړې يې ستا ورونه پوره کړي. ته بايد د خپلو ورونو درناوی وکړې، ځکه چې له ما وروسته هغوی ستا مشران دي.“

زامنو پاڼه له سر تر پایه ولوستله، او یوه بل ته یې وکتل، په صدمه کې شول چې پلار یې هیڅ وصیت نه و پرېښی، بلکې دوی ته یې فقط یو نصیحت یا مشوره پرېښې وه. په دغه وخت کې رقیه، د عبدالله مېرمن وویل چې د هغې په یاد دي چې مېړه یې په هغه شپه د کاغذ په دوه پاڼو باندې لیکل کړي وو، خو هغوی فقط یوه پاڼه لوستلې وه.

هغې ورته وویل چې وګورئ دویمه پاڼه خو به لومړۍ پاڼې پورې نښتې نه وي. کله چې احمد د کاغذ کونج و موښه، هغه ته جوته شوه چې لومړۍ پاڼې سره رښتیا هم یو بل کاغذ نښتی و. د بچیانو مخونه وځلېدل. احمد، تر ټول مشر، وویل، ”شکر خدیه! پلار خپل وصیت په دې کاغذ باندې لیکلی دی!“ محمد او مکرم وویل، ”ژر یې ولوله، ژر!“

احمد لوستلو باندې پیل وکړ.





“”زه الله ج شاهد نیسم چې زما د مړینې وروسته زما کور به زما د مېرمنې، مېرمن رقیه، وي، او دا د هغې خوښه ده چې ساتي یې، زمونږ بچو ته یې ورکوي که خرڅوي یې. دا پرېکړه زما د مېرمن دی.

د خپل کار پرته، زه نور جایداد نه لرم. خو، زما د مړینې نه وروسته، زما اوښان به زما د مېرمن او اولادونو ترمنځ ویشل کېږي. تر ټولو صحتمند او تر ټولو ښایسته اوښ زما د ښځې شو. پاتې به زما د زمانو ترمنځ ویشل کېږي. وروسته له هغې چې زما مېرمن یو اوښ واخیستل، له پاتې اوښانو څخه نیم یې د احمد شول. محمد به د اوښانو درېیمه برخه او مکرم به د اوښانو نهمه برخه اخلي.

کله چې عبدالله بن سعد ومړ، هغه اتلس اوښان درلودل. تر ټولو ښه اوښ د مېرمن رقیه شو. او پاتې شول ولس اوښان.





احمد خپله نیمه برخه وغوښتله، خو هغه نه شول کولای چې د ولس اوښانو نیمايي برخه واخلي ځکه چې دا اته نیم اوښان کېږي. هیڅ څوک نه پوهېدو چې د یوه اوښ نیمه برخه له کومه ځایه ترلاسه کړي. همدارنګه کله چې محمد د درېمې برخې او مکرم د نهمې برخې تقاضا وکړه، په دې کې هم د اوښانو ویشل یو ناشون کار ثابت شو. درې واړه وروڼه سره په جنګ شول، هر یو د ښاروو خپله بشپړه برخه غوښتله. هیڅ څوک هم له خپل دریځ څخه نه په شا کېده.

د هغوی مور په لوړ غږ وویل چې پلار یې لږ وخت کېږي چې خاورو ته سپارل شوی او دوی بیا سمدلاسه د یو بل دښمان ګرځېدلي وو.



مکرم، چې تر ټولو کشر و، ولیدل چې د هغې جګړې د هغه مور خپه کړه. د هغه په ذهن
کې د خپل پلار د نصیحت خبرې وګرځېدې. ”مورې، ته هوښیاره یې. ته ولې مونږ
ته نه وایې چې مونږ باید څه وکړو؟“ هغه وویل.

.محمد، چې نصیحت یې ذهن ته راغلو، له خپل کوچني ورور سره یې
د همغاړیتوب پرېکړه وکړه. “”هو، مورې، ته په کې څه وایې؟ “

احمد هم پوه شو، چې د هغه پلا هم له هغه څخه دا
تمه درلوده چې لومړی د خپلې مور د
غوښتنې درناوی وکړي.

.

هغه پوښتنه وکړه، ”مورې ته ووایه، ستا څه خوښه ده؟“

.

مور لږ چرت وواهه. بیا یې وویل، ”راځئ چې
زه هم خپل اوښ ستاسې له اوښانو سره یوځای کړم. نو تاسې اوس څو
اوښان لرئ؟“





””اتلس، ” هلکانو وویل. ””بالکل درست. احمده ته تر ټولو مشر یې، او د وصیت له مخې تا ته باید د اوښانو نیمه برخه درکړل شي. ستا نهه اوښان رسیږي. محمده، د وصیت له مخې ستا دریمه برخه اوښان رسیږي، نو ته د اتلس اوښانو دریيمه برخه چې شپږ اوښان کیږي، اخلې. او مکرمه، ستا د پلار د وصیت له مخې تا ته د اوښانو نهمه برخه درکول کیږي. د اتلس نهمه برخه دوه اوښان کیږي.“

مور وویل چې اوس نو مسئله اواره شوه. احمد وویل، ”هو مورې. زه نهه اخلم، محمد شپږ اخلي او مکرم دوه اوښان اخلي. اوه خدایه! دا ټول ولس اوښان کیږي، نو ستا اوښ به تاسې پاتې کیږي!“





مور مسکۍ شوه. هغې وویل، ”ستا پلار یو عادل او

ایماندار سړی و.“

# لارښودونکې پوښتنې

1. آیا ستاسو مور او پلار یا مو نیکه زړه پورې قیصې یا ولسي داستانونه درته وايي؟ ستاسو د خوښې قیصې کومې دي؟
2. آیا فکر کوئ چې عبدالله خپلې میرمنې ته درناوی لري؟ تاسو څه پوه شوئ؟
3. د قیصې په پای کې هر یو کس څو داني اوښان اخلي؟ آیا فکر کوئ چې دا ښه خبره ده؟
4. ولې د پلار لومړۍ هیله دویمې هیلې ته ښه ده؟
5. آیا دا ښه خبره ده چې یوه هیله مو پرېږدئ؟